مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۱/۰۴

# پراخه لید

مونږ د ښه لید او د زړه په سترګو لید سره په ډیرو حقایقو پوهیږو ،او پوهیدلای شو ،او یا د ډیرو حقایقو درک کولای شو ،که مونږ په روښانه نظر،د زړه سترګي خلاصی کړو نو کولای شو د خپل ضمیر تیاره کونجونه وګورو او خپل نقایص درک کړو ،د ښه لید له پاره سیاحتونه مشاهدات سفر او ریاضتونه او سختی ګالل او سیر و سلوک لوی اثر لري او دا د لوړو مدارجو ته د رسیدو لوړې پوړی دي ،او د انسان د معنی ته درسیدواو بشپړتیا لوی اثر غورځوی.

نو مونږ ته په کار ده چي د مطالعی او لوست تر څنګه ، تر یوه حده سیر او سفر ولرو او دا عمل ځان ته غوره کړو ،ځکه د مطالعی تر څنګه طبیعی او فطرتی ذکاوت او هوش چې د ګرځیدو راګرځیدو او سیر وسلوک د لارې لاس ته راځي وده ورکړو ،چې یانی کله کله مونږ و کړای شو ، چې غیر د مطالعی او تجربو د رڼا څخه خپل د طبیعی او فطری هوش او استعداد سره ډیر مسایل درک کړو.

ښه لید ښه سوچ او مثبت فکر کول هم باید له پامه ونه غورځوو ،چې باید هر کله په کارونو کې د مثبت لید خاوندان و اوسو ، او مثبت فکر ولرو ،او مثبت فکر درلودل له پامه ونه غورځوو یانی په هر کار کې مثبت لید ولرو د پوهو او د تجربو لرونکو خاوندانو ، د ژورو وینا وو نه هم یو څه زده کول په کار دي ،د لید واټن نوره هم پراخوی ،خو په دي کې ځای د شک نشته چې د سیاحتونو سفرونو سیر و سلوک او سختو او تندو ګاللو اثر پرې زیات دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ